**د پوښتنو تعداد:( ۲۰۰ )**

**د پښتنو ډولونه ( تشريحی، څلور ځوابه، خانه خالی، لنډ ځوابه و صحيح غلط)**

**د مضمون عنوان: ( تعليم وتربيه اسلامی)**

**ټولګي: ( يولسم )**

**د لسم ټولګي د اسلامی ښووني او روزني تشريحي سوالونه:**

**لومړی سوال:** عملي احکام عبارت له کومو احکامو څخه دي ويې ليکئ؟

**دوهم سوال:** دعملي احکامو دوه مثالونه وليکئ؟

**دريم سوال:** اعتقادي احکام عبارت له کومو احکامو څخه دي ويې ليکئ؟

**څلورم سوال:** د اعتقادي احکامو دوه مثالونه وليکئ؟

**پينځم سوال:** عقايد په لغت کې څه ته وايي تعريف يې کړئ؟

**شپږم سوال:** عقايد په اصطلاح کې په څو معناوو سره راغلی دی واضح يې کړئ؟

**اووم سوال:** د عقايدو علم ته ولې عقايد وايي د تسميې وجه يې وليکئ؟

**آتم سوال:** د عقايدو دعلم موضوع وليکئ؟

**نهم سوال:** دعقايدو دعلم غرض څه دی ويې ليکئ؟

**لسم سوال:** د عقايدو دعلم فضيلت او ارزښت په څه کې دی واضح يې کړئ؟

**يوولسم سوال:** دعقايدو دعلم حکم څه دی بيان يې کړئ؟

**دوولسم سوال:** دالله تعالی پروجود يو نقلي دليل وليکئ؟

**ديارلسم سوال:** دالله تعالی پروجود دايمان حکم وليکئ؟

**څوارلسم سوال:** توحيد تعريف کړئ؟

**پينځه لسم سوال:** توحيد په څو ډوله دی نومونه يې وليکئ؟

**شپاړسم سوال:** د ربوبيت د توحيد د اثبات په اړه يو نقلی دليل وليکئ؟

**اووه لسم سوال:** الوهيت تعريف کړئ؟

**آته لسم سوال:** د الوهيت توحيد تعريف کړئ؟

**نولسم سوال:** دالله تعالی اسماء په څو ډوله دي نومونه يې وليکئ؟

**شلم سوال:** دالله تعالی د نومونو داثبات لپاره يو نقلی دليل وليکئ؟

**يوويشتم سوال:** دالله تعالی ذات قديم دی په اړه ايي يو قرآني دليل وليکئ؟

دوه ویشتم سوال: دالله تعالی د نومونو او صفاتو په اړه داهل سنت او جماعت تګلاره څه ده بیان یې کړئ؟

**دری ویشتم سوال:** دالله تعالی په نومونو او صفتونو دایمان ګټې بیان کړئ؟

**څلورویشتم سوال:** وحي په څو ډوله ده نومونه یې ولیکئ؟

**پینځه ویشتم سوال:** د شریعت مصادر څو دي نومونه یې ولیکئ

**شپږ ویشتم سوال:** لاندې حدیث شریف ترجمه کړئ؟

( عن انس رضی الله عنه أن رجلاً قال للنبی صلی الله علیه وسلم أوصنی یارسول الله**!** فقال له النبی صلی الله علیه وسلم خُذِ الأَمرَ بِالتَدبِیرِ فاِن رَأیتَ فی عاقِبَتِهِ خَیراً فأمضِ وأُن خِفتَ غَیاً فأمسِک) «شعب الایمان للبیهقی»

**اووه ویشتم سوال:** لاندې کلمات معنا کړئ؟

(ألاَ أُخبِرُکم) (بِأَفضَلِ) (اصلاَحُ ذَاتِ البَینِ) (الحَالِقَةُ)

**آته ویشتم سوال:** حضرت عائشه رضی الله عنها چې زیات شمیر احادیث یې روایت کړي دي په اړه یې لنډ معلومات ولیکئ؟

**نه ویشتم سوال:** د لاندې عبارتونو معناوې ولیکئ؟

( أنصُرأخَاکَ) ( تَحجُزُهُ أَوتَمنَعُهُ مِن الظُلمِ)

**دیرشم سوال:** لاندې حدیث شریف ترجمه کړئ؟

( عن جابر قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم خَیرُالنَاسِ أَنفَعُهُم لِلناسِ)

**یو دیرشم سوال:** لاندې حدیث شریف ترجمه کړئ؟

عن جبیر بن مطعم أنَ رَسُولَ اللهِ صلی الله علیه وسلم قَالَ: لَیسَ مِنا مَن دَعَا الَی عَصَبِیَةٍ وَلَیسَ مِنَا مَن قَاتَلَ عَلَی عَصَبِیَةٍ وَلَیسَ مِنَا مَن مَاتَ عَلَی عَصَبِیَةٍ) «سنن ابی داود)

**دوه دیرشم سوال:** شکر تعریف کړئ؟

**دری دیرشم سوال:** دشکر دوه مشهور ډولونه ولیکئ؟

**څلور دیرشم سوال:** صبر په څو ډوله دی نومونه یې ولیکئ؟

**پینځه دیرشم سوال:** د احادیثو دمشهور راوی صهیب بن سنان رضی الله عنه په اړه لنډ معلومات ولیکئ؟

**شپږ دیرشم سوال:** د اسلام مبارک دین څو لویې برخې لري نومونه یې ولیکئ؟

**اووه دیرشم سوال:** داسلام اقتصادي نظام تعریف کړئ.

**آته دیرشم سوال:** د میراث علم تعریف کړئ؟

**نهه دیرشم سوال:** دمیراث د علم موضوع او غرض ولیکئ؟

**څلويښتم سوال:** د ميراث دعلم اركان څودي نومونه يې وليکئ؟

**يو څلويښتم سوال:** د مړي تر متروکې پورې څو حقونه تړلي دي نومونه يې وليکئ؟

**دوه څلويښتم سوال:** داسلام له مبارک دين څخه مخکي دميراث حالت څنګه ؤ او چاته ورکول کيده؟

**درى څلويښتم سوال:** کچيرى د مړي وارثان له دوو څخه زياتي لوڼي وي او نو هغوى ته دترکي څوومه برخه ورکول کيږي او کچيرې يوه لور وي بيا پدې صورت کې دترکې د څوومې برخې مستحقه ګرځي؟

**څلورڅلويښتم سوال:** دمړي د اولادونو په شتون کې د هغه مور او پلار د متروکې د څوومې برخې مستحق ګڼل کيږي؟

**پينځه څلويښتم سوال:** عول لغتآ او اصطلاحاً تعريف کړئ؟

**شپږ څلويښتم سوال:** تماثل او تداخل څه ته وايي بيان يې کړئ؟

**اووه څلويښتم سوال:** تحصحيح تعريف کړئ؟

**آته څلويښتم سوال:** تخارج تعريف کړئ؟

**نه څلويښتم سوال:** رد تعريف کړئ؟

**پنځوسم سوال:** د جهاد د فرضيت په اړه يو قرآني دليل وليکئ؟

**دلسم ټولګي دتعليم اوتربيي څلور ځوابه سوالونه:**

**اول سوال:** شرعي احكام په عمومي تو ګه په څوډوله دي؟ الف : ۲ ب : ۳ ج : ٤ د : ٥

**دوهم سوال:** داسلامي علومو اصطلاح په څومعناوو سره راغلي په نښه يي کړئ؟ الف : ۲ ب : ۳ ج : ٤ د :

**دريم سوال:** دعقائدو دعلم زده کړه په هر مسلمان څه حکم لري؟ الف : فرض عينى وفرض کفايى. ب : فرض عينى. ج : فرض کفايى. د : هيڅ يو.

**څلورم سوال:** دالله تعالى په وجود دايمان لرلو حکم څه دى په ګوته يى کړئ؟ الف:فرض. ب : واجب دى . ج : سنت مؤکد . د : سنت دى.

**پينځم سوال:** توحيد په څو قسمه دى؟ الف : ۲ ب : ۳ ج : ٤ د : هيڅ يو.

**شپږم سوال:** په شريعت کې عبادت په څو معناوو سره راغلى دى؟الف : ۲ ب : ۳ ج : ٤ د : هيڅ يو.

**اووم سوال:** اسماء دالله تعالى په څو قسمه دى؟ الف: ۲ ب: ۳ ج: ۴ د: هيڅ يو.

**آتم سوال:** صفات دالله تعالى په څو قسمه دئ؟ الف : ۲ ب : ۳ ج : ٤ د : هيڅ يو.

**نهم سوال:** دالله تعلى دقدرت په صفت سره ايمان څنګه دى؟ الف: فرض دى. ب: واجب دى. ج: سنت دى. د: مستحب دى.

**لسم سوال:** داهل سنت او جماعت دعلماوو له نظره اراده په څو قسمه ده ؟ الف: ۲ ب: ۳ ج: ۴ د: هیڅ یو.

**یوولسم سوال:** په ملائکه وو باندې ایمان څنګه دی؟ الف: فرض دی. ب: واجب دی. ج: سنت دی. د: مستحب دی.

**دوولسم سوال:** حضرت انس رض چی کوم احادیث روایت کړي دي تعدادیی څو ته رسیږي ؟ الف: ۱۴۰۰ ب: ۱۲۰۰ ج: ۱۳۰۰ د: ۱۱۰۰

**دیارلسم سوال:** د (غیاً) کلمې معنا څه شی ده؟ الف: نصیحت وکړه. ب: ونیسه ج: دخیر ضد یا ګمراهی . د: ځان لری تری وساته.

**څوارلسم سوال:** حضرت ابی درداء په کوم کال کی وفات شو؟ الف: ۳۳ . ب: ۳۲ . ج: ۳۴ . د: ۳۵

**پینځه لسم سوال:** حضرت محمد صلی الله علیه وسلم دبی بی عائشې رض سره دهجرت په څووم کال ازدواج وکړ؟ الف: ۲۲۱۰ . ب: ۲۲۰۰. ج: ۲۰۰۰ . د: ۲۰۰۵

**شپاړسم سوال:** حضرت بی بی عائشې رضی الله عنها دپیغمبر صلی الله علیه وسلم څخه څو احادیث روایت کړیدی؟ الف: ۲۲۱۰ . ب: ۲۲۰۰ . ج: ۲۰۰۰ . د: ۲۰۰۵

**اووه لسم سوال:** حضرت بی بی عائشه رضی الله عنها دهجرت په څووم کال وفات شوه؟ الف: ۵۲. ب: ۵۴. ج: ۵۸. د: ۵۵

**آته لسم سوال:** دعروه زوی حضرت عطیه رض له کومی قبیلی څخه وو؟ الف: دبنی نجار له قبیلې څخه . ب: دبنی سعد له قبیلې څخه . ج: دخزرج له قبیلې څخه: د: دبنی هاشم له قبیلې څخه.

**نوولسم سوال:** پیغمبر صلی الله علیه وسلم جابر بن عبدالله رض ته په یوه شپه کې څو ځله دمغفرت غوښتنه وکړه؟ الف: ۲۱ ب: ۲۲ . ج: ۲۵ . د: ۲۴

**شلم سوال:** حضرت ابی هریره رض په څو کلنی کې داسلام په مبارک دین مشرف شو؟ الف: ۲۷ ب: ۲۸ ج: ۲۹ . د: ۳۰

**یوویشتم سوال:** حضرت ابی هریره رض درسول الله صلی الله علیه وسلم څخه څو احادیث روایت کړیدی؟ الف: ۵۳۷۱ . ب: ۵۳۷۲ ج: ۵۳۷۳ . د: ۵۳۷۴

**دوه ویشتم سوال:** حضرت ابی هریره رض دهجرت په څووم کال له دنیا څخه رحلت وکړ؟ الف: ۵۸ . ب: ۵۷ . ج: ۵۶. د: ۵۵

**دری ویشتم سوال:** حضرت صهیب رض چیرته تولد شوی دی؟ الف: شام ب: عراق. ج: روم . د: مصر.

**څلورویشتم سوال:** صبر په څو قسمه دی؟ الف : ۲ ب : ۳ ج : ٤ د: هیڅ یو.

**پینځه ویشتم سوال:** حضرت براء دعازب زوی په کوم هجری کال کی داحد په غزاکی ګډون وکړ؟ الف : ۲ ب : ۳ ج : ٤ د : هیڅ یو.

**شپږویشتم سوال:** حضرت براء بن عازب دکوم خلیفه په وخت کې وفات شو؟ الف: حضرت عمر. ب: حضرت ابوبکرصدیق. ج: حضرت عثمان . د: عبدالله بن ربیر

**اووه ویشتم سوال:** حضرت براء بن عازب دهجرت په څووم کال وفات شو؟ الف:
الف : ۷۰ ب : ۷۱ ج : ۷۲ د : ۷۳

**آته ویشتم سوال:** دمیراث شرطونه څودي په نښه یی کړئ؟ الف : ۲ ب : ۳ ج : ٤
د : هیڅ یو.

**نه ویشتم سوال:** دمیت تر متروکې پورې څو حقوق مرتب دې؟ الف : ۲ ب : ۳ ج : ٤
د هیڅ یو.

**دیرشم سوال:** دوارثینو ډلې څودي؟

الف : ۲ ب : ۳ ج : ٤ د : هیڅ یو.

**یو دیرشم سوال:** د لومړي ځل لپاره دعول په مسأله د اسلام کوم خلیفه حکم کړی؟

الف: حضرت عمررضی الله عنه. ب: حضرت ابوبکرصدیق رضی الله عنه. ج: حضرت عثمان رضی الله عنه. د: حضرت علی رضی الله عنه .

**دوه دیرشم سوال:** سکه خویندې څو احوال لري؟

الف: څلور. ب: پینځه . ج: شپږ. د: هیڅ یو.

**دری دیرشم سوال:** که چیرې په ورثه وو کې له خور سره سکه ورور موجود وي د خور برخه څنګه ده؟

الف: ثلث وړي. ب: ربع وړي. ج: خور عصبه کیږي او ورور د دوو خویندو برابره برخه اخلي. د: نصف وړي.

**څلور دیرشم سوال:** مور څو حالته لري بیان یې کړئ؟

الف: دری حالته لري. ب: شپږ حالته لري . ج: دوه حالته لري. د: هیڅ یو.

**پینځه دیرشم سوال:** حجب په څو ډوله دی.

الف: په دری ډوله . ب: په شپږ ډوله . ج: په دوه ډوله. د: په اووه ډوله.

**شپږ دیرشم سوال:** برخي یاسهمونه چي په قرآن کریم کې ذکرشوي څودي؟

الف: شپږ. ب: دری. ج: پینځه . د: آته.

**اووه دیرشم سوال:** دالله تعالی دقدرت په صفت باندې دایمان راوړلو حکم څه دی؟

الف: فرض دی. ب: واجب دی. ج: سنت مؤکد دی. د: ټول صحیح دی.

**آته دیرشم سوال:** د ارادې تعریف په نښه کړې؟

الف: اراده دیوکار دښه سرته رسولو په معنا ده. ب: دیو کار په پایله کې له ښه غور اوفکر کولو وروسته دهغه کار د کولو اویا پرېښودلو قوي عزم او قصد ته اراده ویل کیږي. ج: په یو کار کې ښه کوښښ کولو ته اراده وایي: د: ټول غلط دي.

**نـهه دیرشم سوال:** دالله تعالی د ارادې په صفت دایمان حکم څه دی؟

الف: فرض دی. ب: واجب دی. ج: سنت دی. د: ټول صحیح دي.

** څلويښتم سوال:** داهل سنت والجماعت علماوو اراده په څوډوله ويشلې ده؟

الف: په پينځه ډول. ب: په دوه ډوله . ج: په څلور ډوله. د: هيڅ يو.

**يو څلويښتم سوال:** قدرت څه ته ويل کيږي؟

الف: قدرت له هغه صفت څخه عبارت دی چې له امله يې يو څوک توانيږي چې د خپلې ارادې سره موافق کوم کار تر سره کړي. ب: د يو کار په سمه توګه سرته رسولو ته قدرت وايي. ج: په يو کار کې کوشش کولو ته قدرت وايي. د: ټول غلط دي.

**دوه څلويښتم سوال:** د سمع تعريف په لاندې ځوابونو کې په نښه کړئ؟.

الف: سمع په مطلق ډول سره د آوازونو آوريدلوته وايي. ب: سمع اطاعت او اوريدلو ته وايي. ج: سمع په عربي ژبه کې له هغه قوت څخه عبارت دی چې آوازونه پرې آوريدل کيږي اما دلته له سمعې څخه دالله تعالی هغه ذاتی صفت مراد دی چې الله تعالی خپل ځان ته په قرآنکريم کې ثابت کړی او موږ يې په کيفيت نه پوهيږو. د: ټول صحيح دي.

**درې څلويښتم سوال:** دالله تعالی د سمع، بصر،علم او ژوند په صفتونو باندې ايمان لرل څه حکم لري؟

الف: فرض دی. ب: واجب دی. ج: سنت مؤکد دی. د: ټول صحيح دی.

**څلورڅلويښتم سوال:** سمع، بصر، علم او حيات دالله تعالی له کوموصفتونو څخه دي؟

الف: فعلی صفتونه. ب: ذاتي صفتونه. ج: دالف جز صحيح دی. د: ټول صحيح دي.

**پينځه څلويښتم سوال:** کلام دالله تعالی صفت دی تعريف يې په نښه کړئ؟

الف: کلام په مطلق ډول سره خبرو کولو ته وايي: ب: کلام هغه خبرو ته وايي چې موږ يې له بل چا څخه آورو. ج: کلام په عربی کې هغه څه ته ويل کيږي چې له حروفو او غږونو څخه مرکب شوی وي، خو دلته له کلام څخه دالله تعالی ذاتی صفت مراد دی چې هغه قديم دی او په څرنګوالي يې موږ نه پوهيږو. د: ټول صحيح دی.

**شپږ څلويښتم سوال:** د ملائکو لغوي تعريف په لاندې ځوابونوکې په نښه کړئ؟

الف: ملائکه په لغت کې خط وړونکي ته ويل کيږي. ب: ملائکه په لغت کې پيغام رسوونکي ته ويل کيږي. ج: ملائکه دملک جمع ده، په لغت کې استازي ته ويل کيږي. د: ټول صحيح دي.

**اووه څلويښتم سوال:** د شريعت مصادر څو دي؟

الف: څلور. ب: شپږ. ج: اووه . د: لس

**آته څلويښتم سوال:** توحيد په څو ډوله دی؟

الف: په درې ډوله. ب: په پينځه ډوله. ج: په شپږ ډوله. د: هيڅ يو.

**نهه څلويښتم سوال:** دالله تعالی نومونه په څو ډوله دي؟

الف په درې ډوله. ب: په شپږ ډوله. ج: په دوه ډوله. د: ټول صحيح دي.

**پنځوسم سوال:** د ذمي اشخاصو د حقونو له منځه وړل څه حکم لري؟

الف: حرام دي. ب: د نفاق سبب ګرزي. د: هيڅ باک نه لري. ج: ټول غلط دي.

**دلسم ټولګي د تعليم او تربيي مضمون د خانه خالی سوالونه:**

**اول سوال:** لاندي خانه خالي په مناسبه کلمه ډکه کړئ؟

دعقايدو علم په نورو علمومو هم نومول شوی لکه: ........ اصول الدين.؟

**دويم سوال:** دالله تعالی پر وجود ايمان (باوراويقين) لرل ...... دی که څوک دالله تعالی له وجود څخه منکر شي........ کيږي؟

**دريم سوال:** توحيد يو ګڼلو ته وايي او په اصطلاح کي دالله تعالی ........ توحيد بلل کيږي؟

**څلورم سوال:** په لاندې آيت کريمه کي خانه خالي ډکه کړئ؟ (اللهُ خَالِقُ كُلِ شَيئَ ...... وكيل؟

**پينځم سوال:** د طاغوت تعريف: طاغوت هغه چاته ويل کيږي چي دالله تعالی په مقابل کي يي ........ کيږي که هغه انسان وي که بوتان.

**شپږم سوال:** صفات د صفت جمع ده، دالله تعالی صفات هغه دکمال معاني دي چي الله تعالی خپل ځان په .......... کي وربلندي ستايلی دی.

**اووم سوال:** فعلي صفتونه هغوصفتونو ته ويل کيږي چي الله تعالی يي ............. لکه رحمت چي ضد يي غضب دی.

**آتم سوال:** قدرت اواراده دالله تعالی له ......... صفتونو څخه ګڼل کيږي؟

**نهم سوال:** د علم تعريف: علم هغي پوهي ته ويل کيږي چي له ....... سره مطابقت ولري؟

**لسم سوال:** حيات دالله تعالی ....... صفت دی؟

**يوولسم سوال:** دالله تعالی د سمع، صبر، علم او ژوند په صفتونو باندې ايمان لرل ..... دی؟

**دوولسم سوال:** لاندی خانه خالي په مناسبه کلمه ډکه کړي؟

( وَكَلّمَ اللهُ مُوسَى .....)

**ديارلسم سوال:** خانه خالی ډکه کړئ؟

قرآن په اصطلاح کي دالله تعالی کلام دی، پر ..........شوی دی په صحيفو کي........ شوی دی؟

**څوارلسم سوال:** په لاندې آية کريمه کي خانه خالی په مناسبه جمله ډکه کړئ؟

(شَهرُ رَمَضّانَ الّذِی.........)

**پينځه لسم سوال:** په لاندې حديث شريف کي خالي ځای ډک کړئ؟

( عن عايشه رضى الله عنها آنها عنى النبى صلى الله عليه وسلم، قَالَ مَازَالَ يُوصِينى جِبرِيلُ بِا لجَارِحَتى............)

**شپاړسم سوال:** په لاندې آيت کريمه کي خالي ځای په مناسبه جمله ډک کړئ؟

(وَمَا يَنطِقُ عَنِ الهَوى ...........)

**اووه لسم سوال:** په لاندې حديث شريف کې خالي ځای په مناسبه جمله ډک کړئ؟

(مَن أَطَاعَنى فَقَد أَطَاعَ الله ...........)

**آته لسم سوال:** لاندې حديث شريف کې خانه خالي په مناسبه جمله ډکه کړئ؟

(تَرَكتُ فِيكُم أَمرَينِ لَن تَضِلوُمَاتَمَسَكتُم بِهِماَ .........)

**نولسم سوال:** په لاندې آيت شريف کې خانه خالي ډکه کړئ؟

(وَالكَاظِمِينَ الغَيظَ وَالعَافِينَ عَنِ النَّاسِ ..........)

**شلم سوال:** لاندې حديث شريف کې خانه خاي ډکه کړئ؟

(الايمانُ بِضعٌ وَسَبعُونَ شُعبةً فأَفضَلُهَا قَولُ لاَ اِلَهَ الاَ الله ........................) متفق عليه.

**يوويشتم سوال:** په لاندې متن کې خانه خالي ډکه کړئ؟

حياء له داسي خصلت څخه عبارت ده چې انسان له ناوړو کارونو سپکوعادتونو او پوچو ويناوو څخه .......

**دوه ويشتم سوال:** لاندې حديث شريف تکميل کړئ؟

( لَيسَ مِناَ مَن دَعَا الى العَصَبِيَةِ وَلَيسَ مِنَا مَن قَاتَلَ عَلَى عَصَبِيَةٍ ...........)

**درى ويشتم سوال:** په لاندې متن کې خانه خالى ډکه کړئ؟

( څوک چې په پټو سترګو د عصبيت په خاطر په ژبه، لاس او نورو وسيلو سره مبارزه وکړي پدې لار کې که مړشي نو دده مرګ د ........ دزماني مرګ دی.

**څلورويشتم سوال:** لاندې خانه خالي ډکه کړې؟

(صبر په .......... ډوله دی

**پينځه ويشتم سوال:** په لاندې تعريف کې خانه خالي په مناسبه جمله ډکه کړئ؟

(د ميراث علم هغه اصول او قواعد دي چې دهغي په وسيله ...............)

**د لسم ټولګي دتعليم او تربيې د لنډ ځواب سوالونه:**

**اول سوال:** عقايد په لغت کې څه ته وايي؟

**دوهم سوال:** دعقايدو دعلم حکم بيان کړئ؟

**دريم سوال:** دالله تعالى پروجود دايمان حکم څه دی؟

څلورم سوال: د الوهيت د توحيد معنا څه ده؟

**پينځم سوال:** دالله تعالى ذاتى نوم څه ته وايي؟

**شپږم سوال:** دالله تعالى صفتونه په څو ډوله دي؟

**اووم سوال:** ملائکه دڅه شي جمع ده او په لغت کې څه ته وايي؟

**آتم سوال:** (فأَمسِک) څه معنا لری؟

**نهم سوال:** (أَلاَ أُخبِرُکُم) څه معنا لري ؟

**لسم سوال:** حديث شريف ترجمه کړئ؟ ( خَيرُ النَاسِ أَنفَعُهُم لِلنَاسِ)

**يوولسم سوال:** ابوهريره رضی الله عنه دهجرت په څووم کال په اسلام مشرف شو؟

**دوولسم سوال:** کلمه د (لااله الا الله) په څه شي دلالت کوي؟

**ديارلسم سوال:** حديث شريف ترجمه کړئ؟ (مَن کَانَ آخِرُ کَلاَمِهِ لاَ اِلهَ اِلاَ اللهُ دَخَلَ الجَنّةَ)

**څوارلسم سوال:** په اسلام کې د برترئ معيار څه شی دی؟

**پينځه لسم سوال:** شکر څه ته وايي؟

**شپاړسم سوال:** د اسلام اقتصادي نظام څه ته وايي؟

**اووه لسم سوال:** په اسلامي اقتصاد کې ملکيت په څو ډوله دی؟

**آته لسم سوال:** ميراث څو شرطونه لري نومونه يې وليکې؟

**نولسم سوال:** د ذوی الفروضو شپږ برخې کومې دي؟

**شلم سوال:** که د مړي زوی او يا له هغه څخه ښکته پاتې شي پدې صورت کې اخيافی ورور او خور څوومه برخه اخلي.

**يوويشتم سوال:** لور په ميراث کې څو حالته لري؟

**دوه ويشتم سوال:** د نقصان حجب څه ته وايي؟

**درې ويشتم سوال:** توافق د عددونو ترمنځ کوم نسبت ته وايی؟

**څلورويشتم سوال:** تصحيح په لغت کې څه ته وايي؟

**پينځه ويشتم سوال:** تخارج په اصطلاح کې څه ته وايي؟

**دلسم ټولګي د ديني ښوونې او روزنې صحيح او غلط سوالونه:**

**اول سوال:** اعتقادي احکام هغه دي چې ترعقيدې او داعمالو په کيفيت پورې اړه الري کوم چې دبدن دغړو په واسطه ترسره کيږي. ( )

**دوهم سوال:** عقيده په لغت کې ديوه شي په اړه ژور فکر کولوته وايي.

**دريم سوال:** دعقايدو دعلم غرض په دنيا او آخرت کې دانسانانوبرياليتوب او نيکبختي ده.

**څلورم سوال:** د عقايدو علم په نورو نومونو هم نومول شوی لکه: دتوحيد علم، اصول الدين، الفقه الاکبر الايمان.

**پینځم سوال:** دعقایدو علم په نورو علومو ځکه فضیلت لري چې له دنیوي امورو څخه بحث کوي.

**شپږم سوال:** توحید دا معنا لري چې الله تعالی په ذات اوصفاتو کې ځانګړی دی او له هغه سره هیڅ ساری او شریک نشته.

**اووم سوال:** عبادت په شرعي اصطلاح کې په څلورو معناووسره راغلی.

**آتم سوال:** دالله تعالی اسماء هرهغه لفظ ته وایي چې په قرآنکریم او احادیثو کې یې یادونه شوي وي او کنه خو چې دالله تعالی په ذات دلالت وکړي.

**نهم سوال:** دالله تعالی نومونه په دوه ډوله دي.

**لسم سوال:** فعلي صفتونه هغو صفتونو ته ویل کیږي چې الله تعالی یې په ضد موصوفیږي.

**یوولسم سوال:** الله تعالی د ارادې په اړه په قرآنکریم کې فرمایلی: (فعال لمایرید)

**دوولسم سوال:** د ملائکه وو دنده یوازې د وحې رواړل دي.

**دیارلسم سوال:** بصر د عقایدو په علم کې دالله تعالی له هغو ذاتي صفت څخه مراد دی چې الله تعالی په قرآنکریم کې د خپل ځان لپاره ثابت کړی او موږ یې په کیفیت نه پوهیږو.

**څوارلسم سوال:** علم دالله تعلی ذاتي صفت دی هغې پوهې ته ویل کیږي چې له واقعیت سره مطابقت ولري.

**پینځه لسم سوال:** قرآنکریم یوازې په یوه نوم سره نومول شوی دی او نور نومونه نه لري.

**شپاړسم سوال:** ملائکې دالله تعالی هغه نوراني مخلوق دی چې په ځینو او قاتو کې دالله تعالی اطاعت هم کوي.

**اووه لسم سوال:** ملائکې په سترګو نه لیدل کیږي خو کچیري دوی چاته د څرګندېدو اراده وکړي نو لیدل یې شوني دي.

**آته لسم سوال:** جبرائیل علیه السلام د (ملک الموت) په نامه سره هم یادیږي.

**نولسم سوال:** وحی په دوه ډوله ده. جلي وحی او خفی وحی.

**شلم سوال:** خفي وحې د نبی علیه السلام له احادیثو څخه عبارت ده.

**یوویشتم سوال:** د شریعت ټول شپږ مصادر دي.

**دوه ویشتم سوال:** انس بن مالک رضی الله عنه پوره شل کاله درسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کې تیرکړي دي.

**دری ویشتم سوال:** حضرت انس رضی الله عنه دهجرت په سلم کال په بصره کې وفات شوی دی.

**څلورویشتم سوال:** د (مَن قَاتَلَ عَلی العَصَبِیَةِ) معنا ده څوک چې په تعصب کې ژوند کوي.

**پینځه ویشتم سوال:** د (لَیسَ مِنَا مَن مَاتَ عَلی العَصَبِیَةِ) معنا ده زموږ له ډلې څخه نه دی هغه څوک چې د غوصې په حالت کې مړ شي.

**شپږ ویشتم سوال:** د ډیر مال درلودل او بیایی دالله تعالی په لاره کې مصرفول، په اسلام کې د برتری لپاره یو معیار دی.

**اووه ویشتم سوال:** شکر: دعربی ژبې لفظ دی د نعمت تصور او دهغه څرګندونې ته وایي ضد یې کفران دی چې له نعمت څخه سترګې پټولو ته وایي.

**آته ویشتم سوال:** صبر په دری ډوله دی. صبر دالله تعالی په طاعت ـ صبر په مصیبت – صبر له معصیت څخه.

**نهه ویشتم سوال:** د اسلام مبارک دین دری سترې برخې لري: عقیده، اخلاق او احکام.

**دیرشم سوال:** داسلام اقتصادي نظام له پیسه داری څخه عبارت دی.

**یودیرشم سوال:** د میراث علم هغه اصول او قواعد دي چې په هغې سره د مړي دفن کول لازم دی.

**دوه دیرشم سوال:** د میراث علم ته نیم علم هم ویل شوی.

**دری دیرشم سوال:** د میراث علم شپږ ارکان لري.

**څلوردیرشم سوال:** میراث دوه شرطونه لري، ۱ – د مورث میرینه ۲ – د وارث ژوند وروسته د مورث له مړینې څخه.

**پینځه دیرشم سوال:** له اسلام څخه مخکې عربو میراث یوازې ماشومانو ته ورکاوه

**شپږ دیرشم سوال:** دمتروکې متعلق څلور حقوق دي.

**اووه دیرشم سوال:** د نارینه اولاد برخه د ښځینه اولاد په پرتله دوه برابره ده.

**آته دیرشم سوال:** د مړي د اولاد په شتون کې که هغه نارینه وی یا ښځینه دهغه موراوپلار شپږمه برخه وړي.

**نهه دیرشم سوال:** د مړي د اولاد د نه لرلو په صورت کې مور او پلار دواړه عصبه ګرزي.

**څلویښتم سوال:** کلاله هغه نارینه یا ښځینه شخص ته ویل کیږي چې ژوند پلار او اولاد دواړه ولري.

**یو څلویښتم سوال:** که خور اولاد ونه لري ورورېي وارث نه شی کیدای.

**دوه څلویښتم سوال:** په قرآنکریم کې د ذوی الفروضو لپاره شپږ برخې ټاکل شوي دي.

**دری څلویښتم سوال:** هغه نارینه چې معلومې برخې ولري څلورتنه دي.

**څلورڅلویښتم سوال:** کچیرې د مړي نیکه او پلار دواړه پاتې شي پدې صورت کې د نیکه حق ساقط او مال ټول دپلار دی.

**پینځه څلویښتم سوال:** زوج دوه حالته لري، کچیرې یې مړه شوې ښځه اولاد ولري نومیره د متروکې څلورمه اخلي. او که چیرې اولاد ونه لري نو میره ته یې نیمایي متروکه ورکول کیږي.

**شپږ څلویښتم سوال:** هغه ښځې چې څرګندې برخې لري لس دی.

**اووه څلویښتم سوال:** حجب په دوه ډوله دی ـ ۱ حجب حرمان. ۲ – حجب نقصان

**آته څلویښتم سوال:** د لومړي ځل لپاره دعول په مسأله حکم حضرت عثمان رضی الله عنه کړی دی.

**نهه څلویښتم سوال:** تماثل دهغو دوو یازیاتو اعدادو ترمنځ نسبت ته ویل کیږي چې هغه عددونه سره مساوي نه وي.

**پنځوسم سوال:** تصحیح د میراثو د علم په اصطلاح کې: له کوچني عدد نه دبرخواخیستل په داسې ډول سره چې د مستحقینو په برخوکې کسرواقع نه شي.